# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



انجنیر سید عبدالقادر

۱۵ جون ۲۰۱۱


## د لیبیا د پاڅون رهبري ځنګه پردو په لاس کي ونیول !

## ۱

۱ــ دشمالي افریقا او منځني ختیځ ولسي پاڅونونو ته یوه لنډه کتنه :

۲ــ د لیبیا پرمستقل هیواد باندي دامریکا او ناتو پوځي یرغل او دلیبیا دهیواد اوسني سیاسي، جنګي کړکیچن حالت او نړیوال غبرګونونه :

۳ ــ دمنځني ختیځ او شمالي افریقا دپاڅونونواحتمالي پایلي :

**لومړي برخه :**

**۱ ــ دشمالي افریقا او منځني ختیځ ولسي پاڅونونو ته یوه لنډه کتنه :**

باید ووایو چی د منځني ختیځ په هیوادونو کښي یو په بل پسي ولسي پاڅونو نه داسي ساده انګیزه نلري ، لکه ځیني غربي او یو شمیر دمنځني ختیځ په حاکمیتونو پوري تړلي تبصره کو ونکي او لیکونکي چی وایي او لیکي چی، دا پاڅون کوونکي دخپلو واکمنانو څخه په تنګ راغلي دي ، او دا واکمنان باید دخپلو ولسونو له پاره یو شمیر دموکراتیک اصلاحات را منځ ته کړي.

په واقعیت کي دا تبصره کوونکي غواړي چی دولسونو دتیر وتلو له پاره په ډیر لږ اصلاحاتو راوستلو سره ددې حاکمیتونو بقاء نوره هم ور اوږده او واکمنان یي خپلو غیر مشروع حاکمیتونو ته ادامه ورکړي. په داسي حال کي چی ددې پاڅونو اصلي انګیزه نه یوازي دډموکراتیکو اصلاحاتو نشتوالي دي ، بلکه ډیر مهم په اقتصادي اړخ کي داضافي ارزش هغه لویه برخه ده ، چی یوازي دسرمایه دارو جیب ته لویږي، او کارګر دخپل سخت او ستړي کار په پایله کي دونه کمه او جوره (مزد) ترلاسه کوي، چی په هغه پیسو کولایسي یوازي دخپلي غریبي شپي او ورځي په تیري کړي او بس. ځکه نو په اوس مهال کي بیا په نړي کي نیژدي د دوو لسیزو چیتیا څخه دادی د لومړي ځل له پاره ددې بي عدالتیو په وړاندي ولسي پاڅونو نو لومړي خپل سرونه دشمالي افریقا او وریسي د

منځني ختیځ دځینوهیوادونولکه (تونیس، مصر، یمن، بحرین، لیبیا، مراکش، سوریه، اردون، کویټ، سعودي عربستان، عراق ...) څخه راپورته کړل. نوپه جرأت سره ویلاي سو چی دا پاڅونونه په واقعیت کي دسرمایه دار او کارګر تر منځ داضافي ارزش دویش دنه انډول ښکاره او ریښتني منعکس کونکي دي. چی دهم دغه ناسالم او غیر مشروع ویش په پایله کي یي دنړي څو میلیارده ولسونه دسختو اقتصادي او اجتماعي ستونځو سره مخامخ کړي دي. چی واکمنان او نړیوال استعماري ملګري یي د ډموکراسي تر نامه لاندي ولسونه په غیر موجه دلایلو باندي ځپي ، دخپلي خوښي سره سم، قوانین جوړوي، اوملي شتمني یي په غیر مشروع ډول په خپلو لاسونو کي نیسي، اودبرچي په زور بیا خپل نامشروع حاکمیت پر ولسونوباندي تحمیلوي. چی دهم دغو بشري او اقتصادي جنایتکارو سرمایه دارانو په جیبونو کي دډیري سرمایي تراکم ددې سبب سوي دي، چی نن یي نړیواله صلح دسترو ګواښونو سره مخامخ کړي ده. چی په ځانګړي توګه ویلاي سو چی دپخواني شوروي اتحاد تر نړیدو وروسته کوم وخت چی امریکا خپل ځان دنړي سالار وباله. اودخپلو ناپاکو مخو له پاره دخپلي خوښي او ګټي سره سم یو په بل پسي مستقل هیوادونه راچپه میلیونونه انسانان یي شهیدان اوپاته ولسونه یي په سختو اقتصادي ستونځو اخته کړل، چی نیژدي په تیره لسیزه کي دا ټول جنایات افغان او عراقي یرغمل سوي ولس نیژدي په خپلو سترګو ولیدل. د ذکرسوي موضوع په اړوند لازمه بولم چی د مریل لینچ په نامه یوي تحقیقاتي مؤسسي څرګندوني چی په تیر کال کي یي نشر ته سپارلي دي یو کوچني برخه یي ولوستونکو ته را نقل کړم :

چی دنړي دثروت مندانوشمیر په ۲۰۰۶ کال کي یو میلیون تنه وو، د لومړي ځل له پاره په دې وروستیو کي شمیر ولسو میلیونو تنو ته رسیدلي دي. چی د تاریخ په اوږدو کي بي ساري وو. چی ددې لس میلیونو اټکل سوي ثروت (٤١) زره میلیارده ډالروته رسیږي. خو دلوړي څخه هره ورځ یولک انسانان خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي ، او د وږو انسانو شمیره (۳۰۰) میلیونه نور هم ډیره سوي ده.

دیادولو وړ خبره ده چی ددو و لسیزو راهیسي ډیرو دا فکر کاوه چی دا جګړه نوره دابد له پاره دمنځه تللي او یوازني کامیابه نظام هم دا دپانګه والي (سرمایه داري) نظام دي. چی د هم دې ستراتیژی لاندي باید دنړي نور هیوادونه هم په اصطلاح پر مختګ وکړي. دا هم باید ووایو چی د دې ولسي پاڅونونو شروع نه یوازي خپل حاکمیتونه غافل ګیره کړل، بلکه د امریکا تر رهبري لاندي امپریالیستي نړیي هم په ډیره حیرانتیا او ګنګس توب کي واچوله. دا ځکه چی امریکا دافریقایي او عربي نړي په ځینو ستراتیژیکي او نفت خیزو هیوادونو کښي دډیره وخته په ځانګړي توګه د دوهمي نړیوالي جګړي وروسته خپلي امنیتي او استخباراتي پوستي ځاي پر ځاي کړي وي، چی د دوي داستعماري ګټو په وړاندي هر ولسي پاڅون او تهدید دهغه محل دحاکمیتونو سره په ګډه خنثا اووځپي.

ولي په اوس مهال کي امپریالستي نړي د دې هیوادونو کي د ولسونو د عملي سوي کار (ولسي پاڅونونو) سره مخامخ سوي ده. ځکه نو امریکا او دغربي نړي استخباراتي شبکي دمنځني ختیځ دیو شمیر هیوادونو دحاکمیوتونو دساتلو او ادامي په مخه ددې پاڅونونو دمخ نیوي اوځپلو له پاره د مختلفو ماکیاولیستي شیوو څخه استفاده کړي اوکوي یي، چی داپاڅونونه دناکامي سره یي مخامخ کړي. او یا لږ تر لږه دخپل هغه اصلي مسیر څخه یي منحرف کړي ، کوم چی ددوي استعماري ګټي له منځه وړي او یا دګواښونو سره مخامخ کوي.

ځکه نو د امریکا اوغربي نړي واکمنانو کوښښ کړي او کوي یي چی دچل او چم څخه ډکو تاکتیکونو باندي ددې پاڅونو په رهبریو کي نفوذ وکړي اوپه ظاهرأ دخلګو دډموکراتیکو غوښتنو په پلوي باندي خپل خانونه ور

نيژدي کړي او وروسته نو بيا په غير مستقيم ډول پاڅونو باندي حمله وکړي. او هم دا رنګه کوښښ کوي  که  په دې پاڅونو نو کي يو متحد يا پلوي  هيواد دلاسه ورکوي، بل نوي هيواد دڅان خپل يا لږ تر لږه پلوي يي کړي.

 چی ددې پاڅونونو په لړي کي نيژدي مثالونه دليبيا پر هيواد باندي دامريکا او ناټو پوځي يرغل او هم د سوريې هيواد  ته دليري څخه دغابنو چيچل دي ، چی څنګه او څه وخت ژر پوځي يرغل پر وکړي، او د دواړو هيوادونو هرڅه په خپلو لاسونو کي ونيسي.  او دبله طرفه بيا امپريا ليستي نړي ددې څخه هم  بيره لري ، چی ددې پاڅونو لړي دسيمي نورو هيوادونو او په ځانګړي توګه  اروپا او امريکا ته ونه غځيږي. او اوس  داسي ښکاري چی داپاڅونو نه مخ په وړاندي ځي او هيڅ نوع سرحد  په رسميت باندي هم نه پيژني. چی ځيني نښي نښاني يي په يونان، پرتګال او هسپاني کي په سترګو کيږي ، چی دڅو  اونيو راهيسي په دې هيوادونو کي  ولسونه دخپلو اقتصادي سختو ستونځو له کبله په مختليفو وختونو کي دباندي راوزي  او مظاهري کوي ۰ تمت با الخير

نوربيا

اخځ : تل افغان ويب پاڼه ۰